# د امان الله خان پاچاهي

(۱۲۹۷ـ۱۳۰۷) هـ ل (۱۹۱۹ـ۱۹۲۹) م



امان الله خان د امیر حبیب الله خان زوی وو . دی د پلار تر مرگ وروسته د ۱۹۱۹ م کال د مارچ د میاشتي په لومړۍ نېټه پاچا سو . کله چي امیر حبیب الله خان ووژل سو نو ورور يې سردار نصرالله خان د ځان د پاره په جلال اباد کي پاچاهي اعلان کړه او انگرېزانو ته يې د خپل ورور په شان د ښو روابطو اطمنان ور کړ . د ده پدې کار مشروطیت غوښتونکي چي یوه ډله ترقي غوښتونکي وه ډېر خواشيني سوه هغه وو چي د ده پر ځای يې امان الله خان پاچا کړ .

امان الله خان د کابل په عیدگاه کي ټول عسکر ، مامورين او خلک راغونډ کړل . لومړی يې خلک د پلار د مړيني د پيښي څخه خبر کړه او بيا يې د کابل په عیدگا کي خپله پاچاهي اعلان کړه .



د کابل عیدگا



امان الله خان لومړی د خپل پلار د وخت بيرغ په لږ تغيير سره خوښ کړ خو وروسته يې تور سور او زرغون بيرغ منځته را ووړ .



امان‌الله خان پداسي حال کي چي عسکري درشي يې اغوستې وه خلکو ته داسي بيانيه ورکړه:



- "اې زما ګران ملته! زه به دغه عسکري درشي د ځان څخه و نه باسم څو د هيواد مور ته مي د ازادۍ کالي نه وي ور په تن کړي.
- زه به دغه توره تيکي ته دننه نه کړم څو د خپل ګران ملت د حقوقو تېري کوونکي مي پر ځای نه دي کښېنولي.
- اې زما ګران ملته او سر ښندونکو عسکرو! راورئ چي خپله اخري هستي د خپل هيواد د ساتني د پاره، راسئ چي خپل د ننګه ډک سرونه مو د خپل هيواد د خلاصون د پاره قربان کړو".

دا يې و ويل او د افغانستان بشپړه ازادي يې اعلان کړه. د ده د پاچاهۍ د پيل سره د ده د پلار او نيکه د انګرېزانو د پلوي سياست پای ته و رسېد او نوموړي د افغانستان پوره خپلواکي اعلان کړه.

د ۱۹۱۹م عيسوي کال د مې پر پنځمه نېټه يې د انګريزانو پر پوستو باندي په درو جبهو کي حملې وکړې چي دغه نو د افغان او انګريزانو دريم جنګ دئ.

د جنګ د ډېر شدت په نتيجه کي دواړو خواوو سوله سره وکړه.

امان‌الله خان د خپل نيکه امير عبدالرحمن خان د سياست په خلاف د خپل شمالي ګاونډي (روسيې) دوستۍ ته لاس واچاوه. په هيواد کي يې ډېر اجتماعي او سياسي اصلاحات پيل کړه چي د يوې خوا د شوروي سره دوستي او دبلي خوا څخه د امان‌الله خان دغه ژر اصلاحات، اجتماعي پر مخ تګونه او د انګرېزانو پروپاګنده سبب سوه چي خلک دده په مخ کي و درېدل او ښورښونه يې وکړه. هغه وو چي د کابل چاري حبيب‌الله کلکاني ته چي د سقاو د زوی په نامه مشهور او په هند کي بندي وو و رسېدې.

حبيب‌الله پدغه وخت کي تر خپل وخت د مخه له بنده را خلاص سو. دا چي په هيواد کي د امان الله خان په مخ کي د انګريزانو د لاس وهنو په سبب نا ارامي راغله او امان‌الله خان نه غوښته چي انسانان دي ووژل سي نو يې دغه څو جملې پر يوه سپينه پاڼه ليکلي وې:

> "د هيواد خير په دې کي دئ چي بايد د کار څخه لاس واخلم. څکه ټولي ويني تويوني او انقلابونه چي په هيواد کي دي زما سره د برخلافۍ په سبب دي"



د امان الله خان قبر په جلال اباد کي

امان الله خان پسله لسو کالو پاچاهۍ څخه د ۱۹۲۹ عیسوي کال د جنوري په میاشت کي د کندهار د لاري د افغانستان څخه ووت. ایټالي ته یې ځان و رساوه او د ژوند تر اخره پوري هلته پاته سو. کله چي وفات سو جنازه یې د الوتکي په واسطه افغانستان ته راوړه سوه او هلته ښخ سو.

عبدالعلي رسول زاده
alirasulzada@hotmail.com